ليکوال: شريف بهاند

۱۲ ، ۱۲ ، ۲۰۰۹

## د بشر د ربښتو (حقوقو) په منل او پلی کيدو کې لوړې او ژورې

### د بشر د ربښتو د نړيوالې اعلاميې د خپريدو د يوشپيتم کال په وياړ

۲

نوی پیر:

په نړيواله کچه په دغه پير کې، عثماني امپراتورۍ د اسلامي نړۍ د مخکښ هيواد په توګه له ماتې سره مخامخ او خپله برتري له لاسه ورکړه او لويديځ تمدن يا په روښانه توګه وويل شي، د وخت ځواکونو په تيره انګلستان د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره له هر ډول شونتياوو د بيلګې په توګه ديپلوماسی، روغې ــ جوړې، غولونې، غوړه مالي او په تيره په جګړو کې له نوو وسلو څخه په ګټې اخيستنې سره، څه نا څه پر نړۍ واکمن او ورسره جوخت د هغه تر لاربنوونې لاندې پر نړۍ هم هغه نظام، چې ريښې يې د هوګو ګروتيوس Hugo Grotius رامنځته شوو قوانينو ته رسيږي، واکمن شو. د دغه نړيوال ستر بدلون په بهير او هم له هغه وروسته په بريتانيا، فرانسي او امريکا کې هم داسې پيښې رامنځته شوې، چې هغو هم د بشر په ربښتو بنسټيز اغيز وکړ او دغه لاسوندونه او اعلاميې په لاندې ډول دي:

- په ۱۶۸۹ زيږديز کال کې په انګلستان کې د ربښتو غوښتليک Petition of Right
- په ۱۷۷۶ زيږديز کال کې د امريکا د خپلواکۍ اعلاميه Bill of Rights
- په ۱۷۸۹ زيږديز کال کې  د فرانسي د بشر د ربښتو اعلاميه.

۱ ــ د انګريزي وګړو د ربښتو غوښتنليک Petition of Right:

د انګلستان وګړو د قربانۍ په ورکړې سره بالاخره ټولواک دې ته اړ ايست، چې د دوي غوښتنو ته غاړه کيږدي. خلکو په تيره اشرافو خپلې غوښتنې  د يوه تړون له مخې، چې د ټولواک او ولس تر منځ لاسليک شو، ترلاسه او د

واکمن واک او ربنتي محدود شوي. دغه ټرون په ۱۶۸۹ زیږدیز کال کي لاسلیک او د ربنتو غوښتنلیک Petition of Right په نامه یادیږي او د ځینو مادو متن یي په لاندي ډول دی:

لومړۍ ماده:

د پارلمان له پریکړې پرته، بل هیڅ مقام نه شي کولي، د قوانینو پلي کول وځنډوي او یا هغه بي اعتباره (ملغی) اعلان کړي؛

دوهمه ماده:

د هیواد د عالی مقام د تیرو کلونو ټول هغه فرمانونه، چي د هیواد د قوانینو په پلي کیدو کي خنډ رامنځته کوي، له دې وروسته د اعتبار وړ نه دي؛

دریمه ماده:

ټولي هغه محاکمي، چي په تیرو وختونو کي د دولتي چارواکو له خوا د کلیسا (مذهبي) د چارو د سرته رسولو او سمونتیاوو په موخه جوړي شوي وي، غیر قانوني اعلاموي؛

څلورمه ماده:

له وګړو څخه اوس او یا په راتلونکي کي د دربار د لګښت او یا هره بله پلمه، د پیسو ترلاسه کول د شورا د مجلس له پریکړې پرته غیر قانوني او منع دي؛

.

.

.

اوومه ماده:

د ملی شورا د غړو ټاکل باید په آزاده توګه تر سره شي؛

.

.

.

یوولسمه ماده:

د زیاتي جریمي ټاکل غیر قانوني دي

دولسمه ماده:

د سختي او غیر انساني سزأ ورکړه او د زیاتو او سختو ربړولو او جزأ حکم په ټولیزه توګه غیر قانوني او منع دي؛

دیارلسمه ماده:

د حکم له صادرولو مخکې ټاکلو کسانو ته د هغوي د جريمي او يا د هغو د شتمنيو د ولکي کولو په اړه د خبرتيا ورکړه، په بنسټيزه توگه منع ده او که ورکړل شوې هم وي، هغه د اعتبار وړ نه ده [۱۵].

د دغې اعلاميې په لاسليک، نافذيدو او پلي کيدو سره، نه يوازې انگريزي وگړو په واقعي توگه خپلې طبيعي ربنتي او آزادۍ ترلاسه کړې او د ټولواک ټول واکونه ورڅخه سلب شول او د انگلستان پاچاهي په يوه مشروطه هغې بدله شوه، بلکې د هغې اغيزې په نړيواله کچه دومره زياتې وي، چې له اتلسمې پيړۍ راپدې خوا ځينو هيوادونو په خپلو بنسټيزو قوانينو کې دا ډول آزادي او ربنتي په پام کې ونيولې. بنې بيلکې يې په ۱۷۷۶ کال کې د امريکا د خپلواکۍ په اعلاميې Bill of Rights او په ۱۷۸۹ کال کې د فرانسې د بشر د ربنتو اعلاميه ده. په دغو دواړو اعلاميو کې د بشر طبيعي ربنتي او آزادي په هر اړخيزه توگه په پام کې نيول شوي دي.

۲ ـ د امريکا د خپلواکۍ اعلاميه Bill of Rights:

د دغې اعلاميې په يوې برخه کې راغلي:

" ...موږ دا ټول له ډيرو روښانو او اړينو حقايقو څخه شميرو، چې ټول انسانان په برابره توگه زوکړ شوي دي، لوی خدای «ج» دوي ته داسې ربنتي وربخښلي، چې له دوي څخه نه جلا کيدونکي دي. د دې ربنتو له جملې څخه د ژوند، د آزادۍ، د هوسايي او سوکالي د ترلاسه کولو هغه دي. د دغو ربنتو د ساتنې لپاره دوي د حکومت بنسټ اينبودلی دی او حکومتونه خپل عادلانه ځواک د فرمان وړونکو له خوښې ترلاسه کوي. بله دا چې، هر کله که حکومتونه له خپلو لارو بې لارې (منحرف) شول، دا د خلکو حق دی، چې يا هغوي ته بدلون ورکړي او يا دا چې هغوي له منځه يوسي او پر ځای يې نوي حکومتونه رامنځته کړي او هغوي [نوي حکومتونه] د نوو قوانينو په طرحې او د ځواک په پلي کولو سره، د خلکو سوکالي، هوسايي او امنيت وساتلي شي. ... د دې لپاره چې د زورځواکه حکومت اغيز لږ کړی شي، د خلکو حق څه چې ان دا د دوي دنده ده، چې دا ډول حکومتونه له پښو وغورځوي او د خپل امنيت او بنې راتلونکې لپاره نوي ساتندويان وټاکي. ... موږ هم تر اوسه پورې د [انگريزی] ښکيلاکگر سياست ناخوالي او ځورونې په ځان منلي وي او اوس د دې وخت رارسيدلی دی، چې خپل حکومتی سيستم ته بدلون ورکړو. ..." [۱۶].

د امريکا د خپلواکۍ اعلاميې Bill of Rights خپل اغيز ان د فرانسې پر ستر انقلاب، چې په ۱۷۸۹ کال کې بريالی شو، هم خپور کړ. انقلابيونو خپله پاملرنه فردی ربنتو، ټولنيزو آزاديو لکه ملی حاکميت، امنيت، برابری او د ځواکونو ويش (تفکيک) ته واړوله. همدارنگه انقلابيونو په خپله کړنلاره کې دا هم په پام کې ونيوله، چې سياسي ځواک يوازې هغه وخت مشروعيت لري، چې پر ټوليزې خوښې، يانې د فرمان وړونکو پر هغې ولاړ وي او حکومت د عامه خلکو او حکومت کونکو تر منځ تړون دی او دا تړون پر دې بنسټ اينبودل شوی، چې افراد له حکومت څخه جلا ربنتي لري او د حکومت ټوله هڅه بايد دا وي، چې له دغو ربنتو ساتنه وکړي.

د همدې لومړنيو آرونو پر بنسټ و، چې د فرانسې ملی شورا د ۱۷۸۹ ز. کال د اگست پر ۲۶ نيټې د فرانسې د بشر د ربنتو اعلاميه تصويب کړه، چې هغې يو ځل په ۱۷۹۳ کال او بيا په ۱۷۹۵ کال کې بدلون موندلی دی. خو د دغې موضوع په باب اړينه وبلل شوه، چې يوازې د لومړنی اعلاميې پر ژباړه بسنه وشي.

۳ ـ د فرانسي د بشر د ربنتو اعلاميه:

په ملی غونډه کي د فرانسي د وګړو راټول شوي استازي، د حکومتونو له خوا د ټولنیزو ناخوالو، د ځورونو د تر سره کولو او فساد لامَل یوازې د بشري ربنتو په نه خبرتیا او د هغو په تر پښو لاندي کول بولي. نو ځکه دوي د دغي شانداري اعلامیي په خپریدو سره د بشر طبیعي، نه جلا کیدونکي او سپیڅلي ربنتي اعلامیوي، چي د ټولني ټول وګړي هغه په پام کي ولري او تل خپلي ربنتي او دندې ور په یاد وي او په دې توګه د قانون رامنځته کونکی (مقننه) ځواک او د عمل په ډګر کي د پلی کونکی (اجرائیه) هغه، پریکړې د نورو سیاسي جوړښتونو له موخو سره پرتله کړي شي. په دې توګه به د وګړو غوښتني، چي له دې وروسته په ساده او د نه انکار کیدونکو اصولو پر بنسټ ولاړې وي، تل د بنسټیز قانون او د ټولیزې سوکالی ساتندوي وي.

لومړۍ ماده:

ټول انسانان د ربنتو له پلوه آزاد او په برابره توګه د نړی پر مخ سترګي پرانیزي او په همدې ډول هم پاتي کیږي. ټولنیز امتیازات او توپیر یوازې پر ټولنیزو ګټو ولاړ دی؛

دوهمه ماده:

د هرې سیاسي ټولني موخه د بشر د طبیعي او نه له منځه تلونکو ربنتو ساتنه ده او هغه آزادی، مالکیت، امنیت او د ځورونې په وړاندې ټینګاو دی؛

دریمه ماده:

د واکمنی (حاکمیت) سرچینه او آر (اصل) ذاتاً په ملت کي نغښتی دی. هیڅ یو کس او یا ټولنیز استازی ته دا واک نه دی ور په برخه، له هغو واکونو چي په ښکاره له ملت څخه نه وي رامنځته شوي، ګټه واخلي؛

څلورمه ماده:

آزادی په دې کي نغښتي ده، چي انسان هر څه تر سره کړی شي، خو په دې شرط چي د هغه دا کړنه نور زیانمن نه کړي. ځکه نو بشر له خپلو طبیعي ربنتو څخه په ګټي اخیستني سره کومي تنګسیاوې (محدودیتونه) نه لري. تنګسیا چي هغه هم د قانون له خوا ټاکل کیږي، یوازې په دې کي دی، چي نورو ته هم عین ربنتي تأمین شي؛

پنځمه ماده:

قانون یوازې د هغي کړني د منع حق لري، چي په ټولني کي د زیان لامَل کیږي. له هیڅ شی څخه مخنیوی نه کیږي، خو هغه چي قانون منع کړی وي. هیڅ څوک یو کار ته نه شي اړ ایستل کیدي، کوم چي قانون په پام کي نه وي نیول؛

شپږمه ماده:

قانون د عامه ویلاړ ښکارندوي دی. ټولو خلکو ته دا حق ور په برخه دی، چي د هغه په رامنځته کیدو کي یا شخصاً په خپله او یا د خپل استازی له لارې همکاری وکړي. قانون څه د ساتني په موخه او څه هم د سزا ورکولو په برخه کي، باید د ټولو لپاره یو شاني وي. دا چي ټول خلک د قانون په وړاندې برابر دي، د دولتي مقاماتو او د

دولت د چارو د سرته رسولو لپاره د افرادو په ټاکنه کي، باید پرته د دوي له ځانګيز پوهي او وړتیا، بل هیڅ شی رول لوبونکي نه وي؛

اومه ماده:

هیڅوک باید په خپل سر و نه نیول شي، هغه په تور تورن او په زندان کي و نه ساتل شي. خو په هغو مواردو کي چي قانون منلي او ټاکلي وي. هغه څوک چي په خپل سر او زور د اوامرو پلي کول غواړي او یا یو کس د اوامرو پلي کولو ته اړ او یا هڅوی، باید سزأ ووېني. خو که یو شخص د قانون پر بنسټ راغوښتل (احضار) او بندی کېږي، باید هغه ته غاړه کېږدي. که څوک له خپل لوري ټینګاو (مقاومت) او سرغړونه کوي، تورن ګڼل کېږي؛

.

.

.

نهمه ماده:

هر وګړی تر هغي پوري بې ګناه دی، چي تورن نه وی پېژندل شوی او که نیول شوی هم وي، اړینه ده، چي قانون د هغه له ځوروني مخنیوي وکړي؛

لسمه ماده:

هیڅوک باید د خپلو ګروهو، ان مذهبی هغو په خاطر و نه ځورول شي. په دې شرط چي دی هم د خپلي ګروهي په پاللو کي ټولنیز سمښت (نظم) ته، چي د قانون له مخي رامنځته شوی، زیان و نه رسوي؛

یوولسمه ماده:

د اندو (افکارو) او ګروهو د بیان آزادی د بشر تر ټولو ګرانه او ستره هغه ده. ځکه نو هر وګړی د هغي په رڼا کي کولي شي، په آزاده توګه خبرې وکړي، هغه ولیکي او خپلي لیکني چاپ او خپرې کړي. که څوک له آزادئ نه، په هغو مواردو کي چي قانون ټاکلي دي، ناوړه ګټه پورته کوي، ګرم (مسؤل) پېژندل کېږي؛

.

.

.

څوارلسمه ماده:

خلکو ته دا حق ور په برخه دی، چي دوي په آزاده توګه په خپله او یا د خپلو استازو له لارې د عامه مالیاتو اړتیاوې وڅېړي او هغه ونډه تأیید کړي، د مالیاتو پر لګښت څارنه وکړي، د هر چا ونډه د هغه د شتمنیو پر بنسټ وټاکي. د مالیاتو او لګښتونو سرچینې، موده، اخځایونه او د لاسته راوړلو نورې لارې ور په ګوته کړي؛

پنځلسمه ماده:

د ټولني وګړو یا د دوي استازو ته دا حق ور په برخه دی، چې د دولت له هر کارکونکی څخه د هغه د ماموریت په اړه، د محاسبې غوښتنه وکړي؛

شپاړلسمه ماده:

په هر هغې ټولني کي، چې ربښتي نه وي تضمین او د ځواک ویش په کي نه وي شوي، د بنسټیز قانون (اساسی هغه) خاونده نه ده؛

اولسمه ماده:

مالکیت یو سپیڅلی او له هر ډول لاسوهني ساتل شوی حق دی. هیڅوک د هغه له درلودلو نه شي بې برخې کیدلی، خو که ټولنه د هغه اړتیاوې د قانوني مقرراتو پر بنسټ په ښکاره او عادلانه توګه او هغه هم د مخکنی جبران په ورکړې سره، اړینه وګڼي [۱۷].

په دغو څو پیړیو کي د رامنځته شوې سیاسي ــ ټولنیزو او ربښتو پرمختیاوو د بهیر په رڼا کي د نړی وګړو وکولي شول تر ټولو دمخه:

- د دین آزادی ترلاسه او
- له مریتوب او مینځیتوب څخه د خلاصون لپاره د زبیښ او بې نیاوې (بې عدالتي) کړی ماتي کړي.

په تیره مریانو او مینځو وکولي شول، د خپلې ژغورني لپاره د مریتوب ضد غورځنګ رامنځته او د نړی په بیلابیلو هیوادونو کي لاس په پاڅون پورې او په خپلو قربانیو سره د زبیښ او بې نیاوې (بې عدالتي) کړی ماتي کړي. د بشر د ربښتو په نړیواله اعلامیې کي هم هغه ته په روښانه توګه نغوته شوې ده. د هغې په څلورمه ماده کي ولولو: " هیڅوک باید د مریی (غلام)، مینځې او یا بنده په توګه و نه ساتل شي. مرییتوب او منځیتوب او د هغوي هر ډول راکړه ورکړه او پلورل او پیرودل منع دي " [۱۸].

نور بیا

اځخ:


15- http://www.verfassungen.eu/gb1689.htm

16- Der Brockhaus, Bd. 14; 1999; S. 402

17- http://www.heinrich-heine-denkmal.de/dokumente/fr-menschenr-dshtml

18- Allgemeine Erklärung der Menschenrechte د شریف بهاند ژباړه